# د يادونو مقبرو کښې

## (جان پري خانه)

سعدالله جان برق

ه

زۀ بيا لړ د سکول زمانې ته په شا ځم زما يو سبقي ؤ منان. نن سبا بوډا دے، د فوځ نه صوبېدار ريټائرډ شوے دے خو نن هم خپله ښځه خپله کمانډره ګڼي او ټوله ورځ په کوځو کښې نمسي لوبوي.

زمونږ به چې چوټي شوه نو زما کور د ټولو نه لرې ؤ، د منان کور لاره کښې ؤ چې د کور دروازې له به راغلو نو ورته به ئې ټک ورکړو، وئيل به ئې جان پري خانې ور لرې کړه. جان پري د هغۀ کشره خور وه ما به ورته وئيل خوار شې هغه جينۍ ده او تۀ ورته "خانه" وائې. وئيل به ئې چې خانه ورته نۀ وايم نو بيا راته د کوټې ور نۀ لرې کوي. ډېره زمانه تېره شوه، منان خو ما ووې خو



جان پري هم اوس بوډۍ ښځه او د نمسو نيا ده خو چې کله چرته په مخه راشي نو ماته هغه خبره رايادہ شي او زۀ ورته وايم جان پري خانې څنګه ئې بلکې دا خبره چې زۀ پرې اوس سوچ کوم نو زما د ټول ژوند قصه ده. زما د ناکاميو بې وسيو او تکليفونو ټولو نچوړ دغه دے چې ما هر څۀ زده کړل خو خوشامندې مې زده نۀ کړې او چا چې دغه هنر زده کړے ؤ هغوي مزې وکړې. په عام ژوند کښې، په سياست کښې، په صحافت کښې، په ادب کښې او شوبز کښې هم دغه د کاميابۍ کنجي ده. زمونږ غوندې کړې خُلې همېشه سُوکونه خوري ځکه چې دغه هنر مو نۀ دے زده او چا ته په خان وئيلو مو خُلۀ

ماتېږي. د ژوند په دې ويره ښاريه کښې په هر بازار کښې، هر دکان کښې، هره لاره او هر کُټ کښې هر څوک دا طمع لري چې څوک ورته خان ووائي

د انصاف خبره هم دغه ده چې کۀ د کوڅې ور لرې کول وي يا بل کار او مطلب ايستل وي نو دغه خوشامندې په کار راځي خو ما تر اوسه دا خوشامندې زده نۀ کړے شوې.

يوه ورځ راسره داسې شوي هم وو. د هلکوانۍ د وخت خبره ده، د پېښور درېو سېنماګانو ته مخامخ يو هوټل ؤ زۀ د کوره فراري وم نو ما وې چرته نوکري کوم اول خو مې خُلۀ نۀ وازېده خو اخر مې هوټل واله ته ووې چې کۀ نوکري درسره وي نو زۀ ئې کوم. وئيل ئې بالکل، بيا ئې يو مشر شاګرد ته ووې هله دے پوهه کړه. مشر شاګرد زۀ د سړک خوا له راوستم مازيګرے ؤ، جوپې جوپې خلق ګرځېدل راګرځېدل وئيل دلته ولاړ اوسه او چې څوک راځي نو ورته وايه خان پخېر راغلې، راځئ کښېنئ چائے وڅښئ. زۀ ولاړ وم يوه شېبه مې کوشش هم وکړو خو خبره مې مرۍ نه راوته، ورو غوندې مې هوټل واله ته وکتل او ترپ مې وهل خو ښادر مې هغه هوټل کښې پاتې شو. ما وې دا خو هم هغه هر کس نا کس ته د خان وئيلو قصه ده هر خړ سري ته به اوس زۀ وايم چې خان پخېر راغلئ راځئ چائے وڅښئ.

يوه واقعه راسره داسې بله هم شوې ده. مونږ رېډيو کښې وو. د بوټو حکومت ؤ، کوثر نيازي د اطلاعاتو وزير ؤ، هسې خو هغه مولانا هم ؤ شاعر هم ؤ يوه ورځ ئې يو منظور نظر هلک چې په رېډيو کښې د سندرې وئيلو شوقي ؤ، رېډيو ته



راواستولو، خو هېڅ ورله نۀ ورتلل. زمونږ پروډيوسر ئې چې اډيشن واخستو نو فېل ئې کړو. هغه لاړو مولانا ته ئې ګيله وکړه.مولانا تُوره را خطا کړه. هغه پروډيوسر ته خو ئې صرف د بدلۍ سزا ورکړه خو مونږ يوڅو کسان ئې په رېډيو بند کړو. وئيل ئې دا پښتونستان دے. اجمل صېب، قلندر صېب، طوفان صېب او داسې نور هم ښېن شول خو هغوي باندې څۀ اثر ځکه نۀ پرېوتو چې رېډيو نۀ بهر وو، صرف زما ترلې روزي وه، هغه ئې رانه په داسې ورځ وشوکوله چې وړوکي اختر ته درې ورځې پاتې وې او عېن په هغه ورځ ما نوے سائيکل صدر کښې اخستے ؤ، ځکه چې د خپل کلي او پېښو ستېشن ترمېنځه يو نيم ميل ټوټه به ما پياده وهله خو هم په هغه ورځ مې هغه سائيکل په پېښو ستېشن کښې په دېرش روپۍ تاوان خرڅ کړو. اخستے مې په دوه سوه ؤ، ځکه چې اختر راروان ؤ او ماسره ټول هست او نيست هم هغه ؤ چې سائيکل مې پرې اخستے ؤ. خبر داسې خو ډېر څۀ مونږ سره شوي دي

ځکه چې وائي د مېرې سُوړه د غم نه چرې هم خالي نهٔ وي. خو مسئله دا پېدا شوه چې اوس کېږي به څهٔ؟ چا راته ووې چې هم هغه د اندرشهر صراف هلک له ورشه منت زاري ورته وکړه هغه به مولانا ته ووائي او کار به دې سم شي خو خبره هم هغه راپېدا شوه ما وې کهٔ دا هنر ما له راتلې نو داسې په بده ورځ به نهٔ وم. ډېرې تړيسکي مې تېرې کړې اخر مې سوچ وکړو چې څهٔ داسې کار پکار دے چې نهٔ ئې د حکومت سره تعلق وي او نهٔ پکښې د چا خوشامندې کول وي. يو سړي راته ووې چې د بيمې کار شروع کړه. د اووهٔ ورځو ټرېننګ مې وکړو خو هغه اووهٔ واړه ورځې زمونږ استاذ مونږ ته هم هغه سبق راکولو په کوم چې زما ژبه نهٔ راوړېده. يو کتاب ئې هم راله راکړو د ډيل کارنېګي د کتاب اردو ترجمه "ميٹھے بول مين جادو هے" کتاب مې ولوستو هم هغه خبره وه. ډيل کارنېګي د دې نظريې نه باقاعده مذهب جوړ کړے ؤ او وئيل ئې چې دا د کاميابۍ دپاره ضروري دي.

يوه ورځ مې استاذ ته ووې ما وې مونږ خو دا اورېدلي دي چې رښتيا تراخهٔ وي بلکې د مور خور کنځل وي نو لازمي خبره ده چې خواږهٔ صرف دروغ کېدے شي او صرف په هغه ميٹھے بول کښې به "جادو" وي چې دروغ وي. د دې دروازې نه هم دوه لاس دوه پښې راووتم. په وېګن کښې ناست وم چې ناګهانه وېګن ته مطلوب الروف صېب راوختو. په ريډيو کښې پروډيوسر ؤ او زما ورسره ښهٔ تعلق ؤ، بلکې هغهٔ به زما ډېر قدر کولو. د مطلوب صېب نور ورونه وو، مسعود الروف (چيف سېکرټري سرحد) او محمود الروف ډېر لوئے افسران وو، راته ئې وئيل هلکه چرته ئې. ما وې بس سړکونه کچ کوو. وئيل څهٔ کار خو دې نشته؟ ما وې نهٔ، وئيل ښه راځه ماسره. کوم ځائے چې نن سبا د پبلک سروس کمېشن دفتر دے، دغلته ئې بوتلم ما وې چل څهٔ دے وئيل تاته پته نشته. پېښور کښې د ټي وي سنټر جوړېږي. دا د ۱۹۷۵ء زمانه وه، بو ئې تلم جميل اپريدے د ټي وي اولنے جي ايم ؤ، څهٔ عجيبه غوندې ملنګ سړے ؤ. ماته ئې وئيل فلاني تاريخ له به ټي وي روانېږي او د ليکلو دپاره ئې راته څهٔ څيزونه ياد کړل. ما ورته ووې چې زهٔ خو دغسې بلېک لسټ يم. وئيل ئې به کنه، کهٔ کله ماله ليکلے څهٔ اړډر راغلو بيا به ګورو، في الحال ماسره داسې خبر نشته، شروع مې وکړه. ګړنګ نومې اولنۍ پښتو ډرامه هم زما ټېلي کاسټ شوه، هسې د ټي وي په کاغذونو کښې اولنۍ ډرامه د خالقداد اميد ليکلې شوې ده ځکه چې د هغې ريکارډنګ په کاغذونو کښې زما د ډرامې نه وړاندې شوے ؤ خو د ټېلي ويژن په چپو خوره شوې اولنۍ ډرامه هم زما ګړنګ وه چې ارباب خان پروډيوس کړې وه، هسې د ټي وي دپاره دا زما اولنۍ ډرامه نهٔ وه، بلکې د دې نه وړاندې چې کله به د چکلالې د ټي وي سټېشن نه د دې صوبې دپاره کوم اووهٔ ورځنے پروګرام "اغوش کوهستان" کېدو نو په هغې کښې هم زما دوه ډرامې نشر شوې وې. بس هغه ورځ وه ټي وي سره ونښتم او تر اوسه يم. په دا ميان کښې ډېر څهٔ شوي دي، ډېر څهٔ مې ليدلي، کتلي، اورېدلي دي چې ذکر به ئې په تفصيل سره بيل کوم.

بهر حال خدائے دې ورله بهتر جنتونه ورکړي.
مطلوب الروف او جميل اپريدي زما ډېر لوئے محسنان وو.

ڈھونڈ اجڑے ہوئے لوگون مین وفا کے موتی
یہ خزانے تجھے ممکن ہین خرابون مین ملین

نور بيا